# جریده میـــزان

قوة قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه : الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښــې ده ترڅو تاسو په تله کې تېری او ټګي ونه کړئ.
دتفسير ځينې عالمان له دې نه داستنباط کوي چې د دنيا د هستۍ نظام پرعدل ولاړدی، کله چې عدل له منځه لاړ شي نو دهســـــتۍ نظام هم له منځه ځي.

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۳۱ غبرګولی ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۲ ذوالقعده ۱۴۴۳ هـ ق | ۲۱ جون ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱۱)


## جدول تعیینات (۱۰۰) تن قضات که به اساس پیشنهاد ستره محکمه و منظوری عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی صورت گرفته است

۱ ـ مولوی عزیزالله ولد حاجی محمدګل بحیث مدقق قضائی ریاست عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان

۲ ـ مولوی وکیل احمد ولد عبدالقیوم بحیث مدقق قضائی ریاست عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان

۳ـ مولوی محمد ظاهر ولد سپاهی بحیث عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمه مرافعه ولایت کابل

٤ ـ مولوی نظام الدین سید ولد محمد خان بحیث عضو مفتی آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن محکمه مرافعه ولایت ننگرهار

٥ ـ مولوی فرمان الله ولد عرب گل بحیث عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت ننگرهار

٦ ـ مولوی سید عبدالکبیر ولد سید انعام بحیث عضو مفتی دیوان تجارتی محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت ننگرهار

۷ـ مولوی رحمن الله ولد غلام رسول بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی دره نور مرافعه ولایت ننگرهار

۸ـ مولوی روح الله ولد هوا جان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی رودات مرافعه ولایت ننگرهار

۹ـ مولوی میر ولی ولد سید افضل بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی پچیراگام مرافعه ولایت ننگرهار

۱۰ ـ مولوی رفیق الله ولد لونگ بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی سپپین غر مرافعه ولایت ننگرهار

۱۱ ـ مولوی محمد عبدالله ولد مولوی محمد امین بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی لعل پور مرافعه ولایت ننگرهار

۱۲ ـ مولوی سمیع الله ولد سید نبی بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی گوشته مرافعه ولایت ننگرهار

۱۳ ـ مولوی مطیع الله ولد ظاهر خان بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی شینوار مرافعه ولایت ننگرهار

١٤ ـ مولوی عبدالله ولد گلاب الدین بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی شینواری مرافعه ولایت ننگرهار

١٥ ـ مولوی نیک محمد ولد محمد یاسین بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی شینواری مرافعه ولایت ننگرهار

١٦ ـ مولوی محمد شفیق ولد جمعه خان بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی حصارک مرافعه ولایت ننگرهار

۱۷ ـ مفتی سلطان محمد ولد لعل الدین بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی حصارک مرافعه ولایت ننگرهار

۱۸ ـ مولوی مسلم ولد عبدالمالک بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی حصارک مرافعه ولایت ننگرهار

۱۹ ـ مولوی لطیف الله ولد نور الله بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی کوزکنر مرافعه ولایت ننگرهار

۲۰ ـ مفتی نقیب الله ولد حضرت خان بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی کوزکنر مرافعه ولایت ننگرهار

۲۱ ـ مولوی سیف الرحمن ولد حضرت خان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی کوز کنر مرافعه ولایت ننگرهار

۲۲ ـ مولوی اظهار الله ولد زاهد الله بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی مهمند دره مرافعه ولایت ننگرهار

۲۳ ـ مولوی عبدالرحیم ولد گلاب الدین بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی اچین مرافعه ولایت ننگرهار

۲٤ ـ مولوی سمیع الله ولد اختر خان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی مهمند دره مرافعه ولایت ننگرهار

۲٥ـ مفتی عزیز الرحمن ولد بسم الله جان بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی ده بالا مرافعه ولایت ننگرهار

۲٦ ـ مولوی خالد ولد کبل بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی ده بالا مرافعه ولایت ننگرهار

۲۷ ـ مولوی فضل الربی ولد غلام حسین بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی بتی کوت مرافعه ولایت ننگرهار

۲۸ ـ مولوی سبحان الله ولد سمیع الله بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی بتی کوت مرافعه ولایت ننگرهار

۲۹ ـ مولوی فقیر محمد ولد خالون بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی بتی کوت مرافعه ولایت ننگرهار

۳۰ـ مولوی عبدالحق ولد سعید الله بحیث عضو محرر دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت ننگرهار

۳۱ـ مولوی شمس الاسلام ولد عبدالرحیم بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی بهسود مرافعه ولایت ننگرهار

۳۲ـ مولوی احسان الله ولد محب الله بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی بهسود مرافعه ولایت ننگرهار

۳۳ـ مولوی عمران الله ولد اول خان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی بهسود مرافعه ولایت ننگرهار

۳٤ـ مفتی محمد خالد ولد طالب جان بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی دور بابا مرافعه ولایت ننگرهار

۳٥ـ مولوی حکمت شاه ولد نور محمد شاه بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی دور بابا مرافعه ولایت ننگرهار

۳٦ـ مولوی معراج احمد ولد محمد اسماعیل بحیث عضو محرر محکمه منسوبین نظامی زون شرق ننگرهار

۳۷ـ مولوی میرزا خیل ولد گلا جان بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی چپرهار مرافعه ولایت ننگرهار

۳۸ـ مولوی احمد خان ولد سید حسن بحیث عضو محرر دیوان جزاء محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت ننگرهار

۳۹ـ مولوی سمیع الله ولد سید حضرت تبدیلی بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی پچیراگام مرافعه ولایت ننگرهار

٤٠ ـمولو ی شیر بهادر ولد آقا جان بحیث عضو مفتی دیوان ترافیک محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت ننگرهار

٤١ ـ مولوی حمید الله ولد مطیع الله بحیث عضو مفتی دیوان منسوبین نظامی محکمه مرافعه ولایت ننگرهار

٤٢ ـ مولوی سرفراز ولد محمد اسلام بحیث عضو محرر دیوان ترافیک محکمه مرافعه ولایت ننگرهار

٤٣ ـ مولوی سمیع الله ولد سعادت بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی اچین مرافعه ولایت ننگرهار

٤٤ ـ مولوی الله داد ولد حبیب جان بحیث عضو مفتی محکمه منسوبین نظامی زون شرق ننگرهار

٤٥ ـ مولوی سخی محمد ولد عین الله بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی غازی آباد مرافعه ولایت کنر

٤٦ ـ مولوی عزت الله ولد حاجی نورحمن بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی غازی آباد مرافعه ولایت کنر

٤۷ ـ مولوی محمد ایوب ولد پاینده خان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی غازی آباد مرافعه ولایت کنر

٤۸ ـ مولوی میر احمد ولد عبدالظاهر بحیث عضو مفتی «مستشار» دیوان امنیت عامه تمیز زون کندهار

بقیه ص ۲

## دکابل په ابتدائیه محکمه کې په ۲/ذوالقعده/۱۴۴۳ هـ ق نېټه مجرمینو ته د تعزیري سزا ورکولو راپور

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس عاليقدر شيخ الحديث عبدالحکيم (الحقاني) په هدايت په ۲/ذوالقعده/۱۴۴۳ هـ ق نېټه دکابل په ابتدائيه محکمه کې يو شمېر مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه.

د تعزيري سزاګانو د اجراء په مناسبت په دغه جوړ شوي پروګرام کې د سترې محکمې د قضائي پلاوي مشر او د جزاء ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله صاحب، د محاکمو قاضيانو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

دغه پروګرام د قرانکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شو، ورپسې د سترې محکمې څخه د راغلي پلاوي مشر او د جزاء ديوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله صاحب وينا وکړه.

مفتي عتيق الله صاحب وويل، د ژوند يوه مهمه اړتيا چې هر انسان يې د ځان، کورنۍ، ټولنې او چاپېريال لپاره غواړي امنيت او سلامتي ده، دا امنيت او سلامتي سربېره پر دې چې فردي اړتيا ده د انساني ټولنې مبرم ضرورت هم دی. د الله تعالی د ټولو نعمتونو څخه استفاده او فايده اخيستل په امنيت پورې تړلي دي.

مفتي صيب زياته کړه، امن او سلامتي د ژوند يو الهي نعمت او بشري ضرورت دی، له دې پرته نه عبادت په ښه ډول ترسره کېدای شي او نه د ژوند نورې چارې، په دې اساس د اسلام مبارک دين مسلمان امت ته د امن او سلامتۍ ژوند اختيارولو حکم کړی دی، د قرانکريم په مبارک کتاب کې څو ځايه د امن او سلامتۍ يادونه شوې ده.

مفتي صيب وويل، د عنکبوت سورت په ۶۷ آيت کې راغلي: (أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ)
ژباړه: او نه يوازې دا چې د مکې ښار يې د امن ښار وګرځاوه، بلکې د مکې ښار ټول حيوانات، مرغان او نباتات يې هم په امن کې شامل کړل.

نوموړي وويل، رسول الله (ص) هم په احاديثو مبارکو کې په همدې اړه خپل امت ته د امن او سلامتۍ ترغيب ورکړی دی.

رسول الله ص فرمايي: والمؤمنُ من أمنه الناسُ على دمائهم وأموالهم.
يعني کامل او رښتينی مومن هغه دی چې خلک د خپلو ځانونو او مالونو په هکله ترې په امن وي.

مفتي صيب وويل، که يو څوک په انساني ټولنه کې د اسلام مبارک دين قوانين تر پښو لاندې کوي، د مسلمان وينه په ناحقه تويوي، مال يې غلا کوي

پاتې ص ۴

### عصري زده کړې
### لومړۍ برخه

په اسلامي دولت کې بايد ديني زده کړو ته د عصري زده کړو په پرتله لومړيتوب ورکړل شي، د دې معنی دا نه ده چې عصري زده کړې دې بيخي پرېښودل شي؛ بلکې د دې معنی دا ده، چې عصري زده کړې بايد د ديني زده کړو په ضمن کې وي؛ ځکه د ټولو مسلمانانو په اند دا خبره ثابته ده چې د انسان د دين او د هغه د کمال مدار په ګټور علم/ علم نافع او صالحو اعمالو ولاړ دی، ګټور علم او نېک عمل د الله تعالی په کتاب پورې تړلی دی، هغه چې باطل نه مخامخ پرې راتلای شي نه د شا لخوا.
او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم په سنتو پورې تړلی دی، هغه پيغمبر چې له هدايت او حق دين سره يې لېږلی دی، تر څو چې هغه پر ټولو دينونو باندې برلاسی کړي، د دغه امت لومړی چې مستقيم/ سم وو، دکتاب او سنت پرته بل څه نه وو، اوس چې کوم څه د دغه امت کاره شوي دي هغه د دوی له پرېښودلو پرته بله وجه نشي کېدای؛ نو د دغه امت دا وروستي به تر هغې پورې اصلاح نه شي، چې بېرته بيا دوی (قرآن او سنت) ته ستانه نه شي.
اخذليک: الإمارة الإسلامية و نظامها، صفحه ۲۴۲/ ليکوال: قاضي القضات شيخ الحديث عبد الحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبد الرحيم راشد

## جدول تعیینات (۱۰۰) تن قضات...

۴۹ ـ مولوی عبدالقدیم ولد مولوی عبدالودود بحیث رئیس دیوان امنیت عامه محکمه ابتدائیه زون سوم مرافعه ولایت کابل
۵۰ ـ مولوی سلیمان ولد نور محمد «ثاقب» بحیث عضو محرر دیوان تجارتی محکمه مرافعه ولایت کابل
۵۱ ـ مولوی عارف الله «منصور» ولد ملا عبداللطیف «منصور» بحیث عضو مفتی دیوان جزاء محکمه مرافعه ولایت کابل
۵۲ ـ مولوی محمد شهزاد ولد سردار خان بحیث عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمه مرافعه ولایت کابل
۵۳ ـ مولوی محمد شاکر ولد عبدالخالق بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی کوهستان حصه اول مرافعه ولایت کاپیسا
۵۴ ـ مولوی هدایت الله ولد الحاج شیرین آقا بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی کوهستان حصه اول مرافعه ولایت کاپیسا
۵۵ ـ مولوی عبید الله «جمال» بحیث عضو مسلکی ریاست عمومی تفتیش قضائی ستره محکمه ا.ا.افغانستان
۵۶ ـ مولوی عبدالحق ولد مولوی عبدالقدیر بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی کوه بند مرافعه ولایت کاپیسا
۵۷ ـ مولوی محمد الیاس ولد مولوی عبدالعلی بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه دوم کوهستان مرافعه ولایت کاپیسا
۵۸ ـ مولوی ضیاء الرحمن ولد رحمت الله بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه دوم کوهستان مرافعه ولایت کاپیسا
۵۹ ـ مولوی اختر محمد ولد شیرین خان بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه دوم کوهستان مرافعه ولایت کاپیسا
۶۰ ـ مولوی شکر الله ولد محمد موسی بحیث عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمه مرافعه ولایت کاپیسا
۶۱ ـ مولوی اسد الله ولد سخی داد بحیث رئیس دیوان مدنی محکمه مرافعه ولایت بلخ
۶۲ ـ مولوی میرزا محمد ولد مولوی امیر محمد بحیث عضو مفتی دیوان مدنی محکمه ابتدائیه زون دوم مرافعه ولایت کابل
۶۳ ـ مولوی فیض الله ولد پادشاه محمد بحیث عضو مفتی دیوان مدنی محکمه ابتدائیه زون دوم مرافعه ولایت کابل
۶۴ ـ مولوی سید ولی ولد حاجی حبیب الله بحیث عضو محرر دیوان مدنی محکمه ابتدائیه زون دوم مرافعه ولایت کابل
۶۵ ـ مولوی محمد امین محمد سلیم بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه اول بهسود مرافعه ولایت میدان وردگ
۶۶ ـ مولوی نور احمد ولد عبدالقدیر بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه اول بهسود مرافعه ولایت میدان وردگ
۶۷ ـ مولوی نعمت الله ولد عبدالمطلب بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه اول بهسود مرافعه ولایت میدان وردگ
۶۸ ـ مولوی محمد خالد ولد مولوی محمد ظاهر بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه دوم بهسود مرافعه ولایت میدان وردگ
۶۹ ـ مولوی عتیق الله ولد ملا عین الانام بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی حصه دوم بهسود مرافعه میدان وردگ
۷۰ ـ مولوی وزیر احمد ولد سید احمد بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی جلریز مرافعه ولایت میدان وردگ
۷۱ ـ مولوی ذبیح الله ولد محمد اسحق بحیث عضو محرر دیوان مدنی محکمه ابتدائیه مرافعه ولایت میدان وردگ
۷۲ ـ مولوی محمد عظیم ولد غازی بحیث عضو محرر دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت بلخ
۷۳ ـ مولوی کمال الدین ولد تاج الدین بحیث عضو مفتی دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت جوزجان
۷۴ ـ مفتی محمد یعقوب ولد مفتی خدا یار بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی خان چهار باغ مرافعه ولایت فاریاب
۷۵ ـ مولوی رحیم الله ولد امین الله بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی خیبر مرافعه ولایت فاریاب
۷۶ ـ مولوی عبدالاحد ولد عبدالقدوس بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی خیبر مرافعه ولایت فاریاب
۷۷ ـ مولوی محمد ولد خدایداد بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی بغلان مرکزی مرافعه ولایت بغلان
۷۸ ـ مولوی غوث الدین ولد صدیق بیگ بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی تاله و برفک مرافعه ولایت بغلان
۷۹ ـ مولوی کرام الدین ولد سردار بحیث آمر ثبت اسناد وثایق و مخزن مرافعه ولایت بغلان
۸۰ ـ مولوی زین الله ولد موسی خان بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی اندراب مرافعه ولایت بغلان
۸۱ ـ مولوی عزیز الله ولد امان الله بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی اندراب مرافعه ولایت بغلان
۸۲ ـ مولوی عبدالهادی ولد داد محمد بحیث عضو محرر محکمه ابتدائیه ولسوالی اندراب مرافعه ولایت بغلان
۸۳ ـ مولوی معراج بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی پل حصار مرافعه ولایت بغلان
۸۴ ـ مولوی عبدالنبی ولد عبدالرحمن بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی پل حصار مرافعه ولایت بغلان
۸۵ ـ مفتی سعد گل ولد حضرت گل بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی خنجان مرافعه ولایت بغلان
۸۶ ـ مولوی محمد اکرم ولد عید محمد بحیث عضو محرر دیوان مدنی محکمه مرافعه ولایت بغلان
۸۷ ـ مولوی غلام سخی ولد عبدالعزیز بحیث عضو مفتی محکمه ابتدائیه ولسوالی دوشی مرافعه ولایت بغلان
۸۸ ـ مولوی انور الحق ولد عبدالحق بحیث عضو محرر دیوان امنیت عامه محکمه مرافعه ولایت بغلان
۸۹ ـ مولوی رجب علی ولد اسلام بحیث عضو مفتی دیوان جزاء محکمه مرافعه ولایت بغلان
۹۰ ـ مولوی محمد نعیم ولد نسیم بحیث عضو مفتی دیوان امنیت عامه محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت بغلان
۹۱ ـ مولوی مجتبی ولد لطف الله بحیث عضو محرر دیوان امنیت عامه محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت بغلان
۹۲ ـ مولوی حالبزار ولد چاری بحیث عضو مفتی دیوان مدنی محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت بغلان
۹۳ ـ مولوی نصر الله ولد نصرت الله بحیث عضو مفتی دیوان ترافیک محکمه ابتدائیه شهری مرافعه ولایت بغلان
۹۴ ـ مولوی محمد رحیم ولد توره بحیث رئیس محکمه ابتدائیه ولسوالی نهرین مرافعه ولایت بغلان
۹۵ ـ مولوی عبدالشکور (رشاد) ولد مولوی نوراحمد تبدیلاً بحیث رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت بغلان
۹۶ ـ مولوی محی الدین (عمری) ولد محمد عمر تبدیلاً بحیث رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت غزنی
۹۷ ـ مولوی محبوب الرحمن (نقشبندی) ولد مولوی عبدالواسع تبدیلاً به حیث رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت خو ست
۹۸ ـ مولوی عبدالکریم ولد مولوی عبدالحلیم تبدیلاً به حیث رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت میدان وردگ
۹۹ ـ مولوی امان الله (هلال) ولد حاجی سیدشاه تبدیلاً به حیث رئیس دیو ان مدنی محکمهٔ ابتدائیه شهری مرافعه ولایت غزنی
۱۰۰ ـ شیخ نقیب الله اخندزاده ولد کمال الدین اخندزاده به حیث رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت زابل.

## د غزني ولايت د استيناف محکمې د همغږۍ او اداري ناستو راپور

### د همغږۍ ناسته

د غزني ولايت د استيناف محکمې په رياست کې په ۱۴۴۳/۱۰/۱۱ هـ ق نېټه د مولوي عبدالشکور رشاد (اخندزاده) په مشرۍ د همغږۍ ناسته ترسره شوه. ناسته د قرآن عظیم الشان په تلاوت پيل شوه، وروسته د استيناف محکمې رئيس ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووايه او په لاندې مواردو يې بحث وکړ:

- په ناسته کې شامل هر ارکان خپل مشکلات او وړانديزونه بيان او په اړه يې لازم تصاميم ونيول شول.
- د ناستې ټولو غړو ته سپارښتنه وشوه چې په ګډه د نظام د ټينګښت لپاره شپه او ورځ کار وکړي، يو له بل سره تفاهم وکړي ترڅو ملت ستړی نشي او ستونزو ته يې پر وخت رسيدنه وشي.
- د ناستې ټولو غړو ته توصيه وشوه چې د خپلو اړوند شعبو د کارکوونکو کړنو ته دې په جدي توګه پاملرنه وشي او کارونه يې دې وڅېړل شي.
- هر ارکان دې له خپلو دندو سره په پوره توګه د بلدتيا لپاره لازم چمتوالي ولري.

ياده ناسته د دعا په ويلو سره پای ته ورسېده او ګډونوالو يې ټينګار وکړ چې هره مياشت بايد دغه ډول غونډې ترسره شي.

### اداري ناسته

د غزني ولايت د استيناف محکمې رياست لخوا په ۱۴۴۳/۱۰/۵ نېټه د ياد ولايت د محاکمو او يو شمېر نورو ادارو له مسؤلينو سره غونډه وشوه.

په دې ناسته کې د غزني ولايت د استيناف محکمې د ديوان جزا رئيس، د غزني ولايت د ښهري محکمې د جزاء ديوان رئيس، د غزني ولايت ښهري څارنوال او د دغه ولايت د محبس نماينده ګډون درلود.

په ياده ناسته کې په لاندې مواردو بحث او خبرې وشوې:

- د بنديانو د عبادت او تعليم پوښتنه (که يې زمينه برابره نه وي لازمه همکاري دې ورسره وشي)
- د بنديانو د روغتيا پوښتنه (که ناروغ وي د حبس اړوند مسئول سره يې دې معلومات شريک شي)
- د بنديانو د خوراک او څښاک پوښتنه (که په دې برخه کې ستونزه ولري له اړوند مسؤلينو سره دې شريکه شي او حللاره دې ورته پيدا شي)
- له بنديانو دې وپوښتل شي چې چا تعذيب کړي نه وي (که فرضا تعذيب شوي، وخت يې دې معلوم شي او معلومات دې وشي چې د چا لخوا ځورول شوي دي)
- له بنديانو دې معلومات وشي چې څوک خو به بې برخليکه نه وي يعنې چې دوسيه يې محکمې ته نه وي تللي (که فرضا داسې کسان وي د وخت او په دې اړه چې چا بنديان کړي معلومات وشي)
- له بنديانو دې معلومات وشي چې داسې بنديان خو به نه وي چې قيد يې پوره شوی وي او اوس محبس کې بندي وي (که فرضا داسې بنديان وي لامل يې دې بيان کړي)

### د ابتدائيه محاکمو له مسؤلينو سره ناسته

- د غزني ولايت د استيناف محکمې رياست لخوا په ۱۴۴۳/۱۰/۷ هـ ق نېټه د ابتدائيه محاکمو له مسؤلينو سره غونډه وشوه.
- په دې غونډه کې په لاندې مواردو بحث وشو.
- په محاکمو کې د خلکو د شته دوسيو د رسيدنې بهير کې دې د ځنډ مخه ونيول شي.
- کوم مکتوبونه، استعلامونه او نور چې د سترې محکمې عالي مقام نه رالېږل کيږي پر ټاکلي وخت دې له ځنډ پرته ځواب شي.
- د محکمې ټول کارکوونکي (له قاضي نه تر اجيره) دې ټول د وخت پابند واوسي او په ټاکلي وخت دې خپلو مسؤليتو ته حاضر وي.
- د ښځو شرعي حقوقو په ځانګړې توګه (ميراث ) ته دې جدي توجه وشي.
- د مشرتابه د دې هدايت په اساس چې محکمې خپلواکې دي حکم دې مستقل کوي، ټولو ته مفصل تشريح وشوه .

## جلسهٔ رؤسای دواوین محکمهٔ استیناف ولایت کندز دایر گردید

جلسه رؤسای دواوین محکمهٔ استیناف ولایت کندز تحت ریاست مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف با اشتراک همهٔ رؤسای محترم دواوین استینافی، رئیس محترم محکمهٔ ابتدائیه شهری و آمر محترم ثبت اسناد وثایق غرض بررسی استهداآت واصله مراجع مربوط و عرایض مراجعین دایر گردید.

ابتداء جلسه به نام خداوند عادل و توانا (ج) آغاز گردید؛

سپس استهداآت و عرایض مراجعین مورد غور و مداقهٔ اعضای کمیسیون قرار گرفت که بعد از بحث و تبادل نظر و تحلیل همه جانبه در نتیجه وفق قوانین شرعی نظریات و هدایات را در رابطه به موضوعات مطروحه احکام فرمودند و به تحریرات وظیفه سپرده شد تا احکام و هدایت را به مراجع مستهدی ارقام و اخبار نمایند.

## جلسه اداری ریاست محکمه استیناف ولایت پروان

به اشتراک محررین قضائی دیوان های استینافی، شهری و ولسوالی‌های مربوطه و کارمندان اداری، تحت ریاست شیخ محمد قسیم «محمدی « رئیس محکمهٔ استیناف جلسه اداری این محکمه تدویر یافت.

ریس محکحمه استیناف به شاملین این جلسه هدایت داد که در انجام کار خلق الله به وقت و زمان آن توجه جدی نمائید و پرسونل محاکم را به رعایت حاضری دعوت و متوجه ساختند گفت که به اساس ملاحظه این ریاست به فضل خداوند (ج) کارهای قضائی و اداری محاکم استیناف روز به روز بهتر میشود و باز هم کوشش صورت گیرد که درقسمت کارهای محوله دفترهای خویش دقت و سرعت عمل را به خرچ بدهید و نیز به حاضری پابندی و توجه نمائید از اینکه مقام عالی ستره محکمه به محررین (قضائی) معاش مناسب را در نظرگرفته است و همچنان برای کارمندان اداری وخدماتی اجرای اضافه کاری را هدایت فرموده اند که درقسمت حلال ساختن معاش و اضافه کاری توجه جدی صورت گیرد.

وی افزود، عدم موجودیت قضات و کارمندان اداری سبب سرگردانی مراجعین می‌شود و تأکید نمود تا در قسمت ارسال راپورهای حاضری (۲۵) روزه و راپورهای ربع وار خویش طور دقیق و مسئولانه خانه پری و به اسرع وقت بدون تأخیر ارسال بدارید.

به همینطور یک تعداد از کارمندان قضائی و اداری مشکلات خویش را درجلسه ذکرشده شریک ساخته که این ریاست در مورد حل آن پاسخ قناعت بخش را ارائه نمودند.

## دکونړ د استيناف محکمې رئيس د دغه ولايت د عدليې له رئيس او ورسره مل پلاوي سره وکتل

د کونړ د استيناف محکمې رئيس مولوي عزيزالرحمن (حقاني) د ياد ولايت د عدليې له رئيس قاري عبدالستار او ورسره پلاوی سره په مرافعه محکمه کې ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې د استيناف محکمې د مدني او عامه حقونو ديوان رئيس مولوي عبدالمالک او همدارنګه د ښاري محکمې د مدني او عامه حقونو ديوان رئيس مولوي ظاهرالله هم ګډون درلود.

په ناسته کې د اداري موضوعاتو ترڅنګ د دغه ډول ناستو د اهميت او ګټو په اړه بحث وشو.

دغه راز په اداري برخه کې د خلکو ستونزو ته د رسېدنې او په ټاکلي وخت اړوند مراجعو ته د خلکو د دوسيو د استولو، په ورځنيو اجراآتو کې پر شفافيت او چټکتيا او د محاکمو د فيصلو د ښه او پر وخت تطبيق په تړاو تفصيلي خبرې وشوې، تر څنګ يې په دې برخه کې لازمې لارښوونې او سپارښتنې شريکې شوې ترڅو راتلونکي کې په خپلو چارو کې له دې لارښوونو او سپارښتنو استفاده وشي او له ځنډ او خنډ پرته اړوند اجراآت ترسره شي.

ياده ناسته حاکم نظام ته د بقاء په دعاء پای ته ورسېده.

## جلسهٔ اداری محکمهٔ استیناف ولایت فاریاب دایر گردید

جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ استیناف ولایت فاریاب تحت ریاست مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف با اشتراک رؤسای دواوین استینافی، شهری، قضات و کارمندان اداری و خدماتی در تالار جلسات علنی ریاست محکمهٔ استیناف دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید توسط یک تن از اشتراک کننده‌گان آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف توصیه های لازم برای رؤسای دیوان‌های استینافی، محکمهٔ ابتدائیه شهری، قضات و محررین محترم ارائه و به موارد ذیل اشاره نمود:

- در نظر گرفتن اصولنامه، لایحه و فرامین مقام عالی امارت اسلامی افغانستان در اجراآت یومیه، عموم کارمندان باید در اوقات رسمی به شعبات خویش حضور یافته و حاضری خویش را مطابق اصول اداری امضاء نمایند.
- هر نوع پیشنهاد، مکتوب و یا سایر مراسلات که به ادارات صادر میگردد باید مطابق طرزالعمل مراسلات ترتیب نمبر وارده و صادره داشته باشد.
- بعد از ختم رسمیات تمام کارمندان باید کارهای خود را ترتیب و تمام وسایل برقی و تجهیزات کمپیوتری خود را خاموش و اطمینان حاصل نمایند.
- عموم پرسونل خصوصاً کارمندان خدماتی در قسمت صفائی صحن محکمه، شعبات و دهلیزها توجه لازم داشته با شند
- . قضات محترم و کارمندان اداری فورمه های سوانح خود را خانه پری دقیق نموده و تسلیم شعبه مربوطه نمایند.

در این جلسه همچنان نظریات و پیشنهاددات منسوبین محکمه مطرح و رهنمایی‌های لازم صورت گرفت و جلسه با دعائیه خیر و فلاح ملت خاتمه یافت.

## د بغلان ولایت د استیناف محکمې نوي رئیس په کار پیل وکړ

د بغلان ولایت د استیناف محکمې لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په حکم نوي ټاکل شوي رئیس (مولوي عبدالشکور رشاد اخندزاده) دنده پیل کړه، او د یاد ولایت د محاکمو اړوند ارګانونو مسؤولینو ته ور وپیژندل شو.
د استیناف محکمې د نوي رئیس مولوي عبدالشکور رشاد اخندزاده د معرفت په غونډه کې د مرافعې د دیوانو قاضیانو، د ښهري محکمې رئیس او غړو او ځینو نورو اداري مسوولینو ګډون کړی و.
د استیناف محکمې نوي رئیس په دې ناسته کې وویل، د بغلان ولس او مجاهدین د قدر وړ خلک دي، د اسلامي امارت او شرعي نظام د حاکمیت لپاره یې بې ساري قربانۍ ورکړې او یوازینۍ موخه یې د اسلامي نظام حاکمیت وه، اوس چې په ټول هیواد کې اسلامي نظام حاکم شوی نو دا نظام له موږ کار او خدمت غواړي او په ګډه به خدمت ورته کوو.
د استیناف محکمې رئیس ټولو اړوند کارکوونکو ته هدایت وکړ چې خپلو کارونو ته متوجه شي او د هېڅا تر تأثیر لاندې رانشي او شرعي فیصلې وکړي.
وروسته مولوي عبدالشکور رشاد اخندزاده د ناستې ګډونوالو ته په خبرو کې وویل، د هرې ولسوالۍ د محکمې له رئیس او غړو سره به جلا جلا ناستې وکړي، له دوی سره به د خلکو د ستونزو د حل او شرعي فیصلو صادرولو په برخه کې لازمې سلا او مشورې وکړي او شته ستونزو ته به د اصولو مطابق حللارې پیدا کړي.

## د پکتیا د استیناف محکمې د رئیس په هدایت د دغه ولایت د زندانونو د لیدنې لپاره ګډ پلاوی جوړ شو

د ۱٤٤٣ هـ ق کال د لسمې میاشتې په ۲۳ نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس مفتي عبیدالله خالد لخوا ګډ پلاوی جوړ او دغه پلاوي د پکتیا ولایت له عمومي زندان څخه لیدنه وکړه.
د ګډ پلاوي په تشکیل کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د جزاء دیوان محرر مولوي عبدالرحمن، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د عامه امنیت دیوان محرر مولوي شمس الله او د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز د ښاري ابتدائیه محکمې د ترافیکو دیوان مفتي عبدالله دیوبندي ګډون درلود.
ګډ پلاوي د محبوسینو په اړوند خپل راپور کې دغه ریاست ته لیکلي چې د پکتیا ولایت په محبس کې (۱۱٤) تنه محبوسین تر حبس لاندې دي چې د ځینو محبوسینو دوسیې له امنیتي او کشفي ارګانونو سره تر ابتدائي تحقیقاتو لاندې دي، د ځینو محبوسینو دوسیې د ترتیب او تنظیم په موخه د پکتیا ولایت په استیناف څارنوالۍ کې قرار لري او همدارنګه د اکثرو محبوسینو دوسیې د پکتیا ولایت په محاکمو کې تر ابتدایي او مرافعه وي غور لاندې دي چې بعضې فیصله شوې، بعضې یې د فیصله کولو لپاره تیارې دي او بعضې یې تر ابتدایي غور لاندې دي.
دغه پلاوی دمحبوسینو د صحت په اړه لیکي چې د پکتیا ولایت د محبوسینو صحي اوضاع ښه وه او هغه دګوتو په شمېر محبوسین چې روغتیایي ستونزې یې لرلې د محبس عمومي مدیریت ته سپارښتنې وشوې ترڅو یې روغتیایي ارګانونو ته معرفي او د ناروغۍ ستونزې یې حل شي.
دغه راز ګډ پلاوی لیکي چې د محبوسینو د خوراک، پوښاک او د اوسېدو له ځای نه لیدنه وشوه او بعضې ستونزې یې چې لرلې هغه د محبس مسئوولینو ته په ګوته شوې ترڅو د حل لار ورته پیدا او محبوسین له ستونزو نه په امن کې وي.
د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د ریاست لخوا د ګډ پلاوي د راپور په اساس د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې دواوینو ته، د پکتیا ولایت د مرکز ګردیز د ښاري ابتدائیه محکمې ریاست ته، د پکتیا ولایت د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو ته د پکتیا ولایت د استیناف څارنوالۍ ریاست ته او همدارنګه د پکتیا ولایت امنیتي او کشفي ارګانونو ته بېلابېل مکتوبونه واستول شول ترڅو د محبوسینو پر دوسیو ژر تر ژره اجراآت وشي او د محبوسینو ستونزې په اصولي ډول حل شي .

## بازدید رئیس محکمهٔ استیناف ولایت تخار از محبوسین در زندان آن ولایت

طبق گزارش رسمی نمبر( ۲۸/ ۳۹) مورخ ۲۳/ ۹/ ۱٤٤۳هـ ق مدیریت محترم عمومی زندان ولایت تخار به تعداد( ۱۳ ) نفر بدون فورم سجل توقیفی و بدون دوسیه درحالـــــت بی سرنوشتی طور غیرقانونی تحت توقیف قرارداشتند.
بنابرآن یوم شنبه مورخ ۷/شوال المکرم ۱٤٤۳هـ ق محترم مولوی محمدصابر( حنفی ) رئیس محکمه مرافعه ولایت تخار، با معیتی محترم مولوی عبدالروف رئیس دیوان جزأ محکمه شهری، محترم مولوی نورالهدأ عضو دیوان امنیت عامه شهری و محترم محمدانس ( نوری ) مدیر اجرائیه استیناف از مدیریت عمومی محبس تالقان بازدید و قضیـــــه بی سرنوشتی متهمین فوق را جدا جدا استماع و بررسی نمودند که درنتیجه مشخص گردید متهمین مذکور ازطریق آمریت حوزه های امنیتی و یکتعداد ادارات بطور غیر اصولی توقیف شده بودند وکدام سجل توقیفی و دوسیه نداشتند که بعداز بررسی همه جانبه از توقیف رها گردیدند و به مسئولین زندان هدایت و راهنمائی لازم داده شد تا هیچکس را بدون سجل توقیفی طور غیر اصولی توقیف ننمایند.
علاوه بر آن مشکلات و چالش های مدیریت عمومی زندان و محبوسین استماع و یاد داشت گردید تا تصامیم لازم و قانونی صورت گیرد.

## تدویر جلسه قضائی و اداری در محکمه استیناف ولایت کندز

جلسهٔ قضائی و اداری محکمهٔ استیناف ولایت کندز به تاریخ ۱٤۰۱/۲/۲٥ تحت ریاست محترم مولوی نور محمد «نوری» رئیس عمومی محکمهٔ استیناف با اشتراک همهٔ قضات محترم؛ اعم از رؤسای دواوین استینافی، قضات ریاست محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ولسوالی ها غرض بهبود هرچه بیشتر امور قضائی در تالار جلسات محکمهٔ استیناف دایر گردید.
در نخست جلسه با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید توسط یک تن از اشتراک کننده‌گان آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف سخنرانی کرد و ضمن خوش آمدید و خیر مقدم مشترکین جلسه، به موارد ذیل اشاره کرد:
۱ـ پا بندی به وظیفه محوله و رعایت اوقات رسمیات.
۲ـ رفتار نیک و برخورد سالم با مراجعین و اصحاب دعوی.
۳ـ دقت بیشتر در اصدار فیصله‌های شرعی و قرارهای قضائی.
٤ـ تقدیم راپور اجراآت در میعاد معینه.
٥ـ تدویر جلسات هماهنگی در سطح ولسوالی‌ها به اشتراک مسؤلین ارگان‌های عدلی و قضائی.
٦ـ مطالعه مصوبات ریاست محترم دارالانشاء مقام عالی ستره محکمهٔ ا.ا.ا و استفاده از مزایای آن در اجراآت روزمره.
۷ـ بررسی اوراق و دوسیه خلق الله و ترتیب وثایق مراجعین در اسرع وقت.
وی تأکید و رهنمای های لازم را در راستای بهبود و تسریع هرچه بهتر و بیشتر امور قضائی، هدایت فرموده افزود که خدمت گذاری به مردم و جامعه از مسؤلیت عمدهٔ قضات بوده و توصیه نمودکه امورات قضائی را با کمال بی‌طرفی پیشبرده شود و تحت تاثیر هیچ یکی از اشخاص حقیقی و حکمی قرار نگیرند.
در ادامه رؤسای محاکم مربوط باالنوبه نظریات و پیشنهادات شان را مبنی بر بهبود امور محوله مطرح نموده تعهد نمودند که در راه پیشبرد وظایف مربوط از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزیده و نمی‌ورزند.

## د قتل او تاوتریخوالي موضوع په دایمي سوله بدله شوه

د زابل ولایت په استیناف محکمه کې په ۱۵/ ۱/ ۱۴۰۱هـ ش نېټه د جزاء دیوان ته د زابل ولایت د ښهر صفا ولسوالۍ څخه د قتل په رابطه یوه جزائي قضیه راغلې وه.
د قضیې تر څېړلو او له طرفینو ( مدعي او مدعی علیه ) سره د اړیکو او خبرو په نتیجه کې جانبین دې ته آماده شول چې خپل منځ کې یاده جزائي فقره د سولې له لارې حل او فصل کړي.
د جزاء دیوان رئیس د خپلو همکارانو په مشوره همدا قضیه د سولې لپاره د لومړۍ حوزې آمر ته راجع کړه چې د (حاجي فخرالدین) په همکارۍ د جانبینو قناعت ترلاسه کړي، د لومړۍ حوزې آمر د ځان او حاجي فخر الدین په ګډون اصلاحي کمېټه جوړه او ذکر شوې قضیه یې د جانبینو په قناعت حل او فصل کړه، مدعي او مدعي علیه او د هغوی خپلوانو د دیوان جزاء له رئیس ،غړو او اصلاحي کمېټې څخه مننه وکړه او دوی ته یې په چارو کې د لا بریالیتوب غوښتنه وکړه.

## د زابل ولایت د استیناف محکمې په ریاست مقام کې د همږۍ غونډه جوړه شوه

د زابل ولایت د استیناف محکمې د ریاست مقام کې د لومړي ځل لپاره په ۱۴۴۳/ ۱۰/۳۰ هـ ق نېټه د یو شمېر ادارو د مسؤولینو ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه.
په دې غونډه کې چې د زابل ولایت د استناف محکمې د رئیس شیخ نقیب الله اخندزاده په مشرۍ په خپل کاري دفتر کې جوړه شوې وه د استیناف څارنوالۍ رئیس مولوي عبدالقادر(طه)، د عدلیې رئیس مولوي عبدالوارث (خلیل)، د امربالمعروف نهی عن المنکر او سمع شکایاتو رئیس مولوي ابراهیم(جاوید) او د ښهري محکمې رئیس مولوي فضل الرحمن ( فضلي ) ګډون درلود.
په لومړي سر کې د استناف محکمې رئیس شیخ نقیب الله اخندزاده ناستې ته د وینا تر څنګ هر مسؤول ته د ورسپارل شوو مسؤولیتونو د ښه ترسره کېدو سربېره د همغږۍ د دې غونډې په اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې.
ښاغلي اخندزاده وویل چې زموږ او ستاسو هدف د اسلام، هیواد او خپلو ولسونو لپاره خدمت کول دي چې تر ډېره بریده په یاده غونډه کې داخلي اداري په هر کار کې سره دخیلې دي او په یو وخت کې یوه موضوع تر کار لاندې لري.
دده په خبره، لازمي ده چې موږ او تاسې په هر وخت کې د هماهنګۍ غونډې ولرو تر څو هغه ستونزو ته چې د یادو ادارو د فعالیت پر مهال رامنځته کېږي په ګډه یوه حللاره پیدا کړو او خپلو ستونزو ته متوجه شو.
د محکمې رئیس شیخ نقیب الله اخوندزاده همدا راز زیاته کړه چې هغه دارالوکالې او صورت دعوې چې محکمې ته راوړل کیږي له زیاتو سوتونزو ډکې وي چې دده په خبره په ښار کې د عادي ښاریانو له لوري وربانديې کار شوی وي، په داسې حال کې چې یاد اسناد باید د یو تکړه عالم له لوري ترتیب شي، نو په همدې اساس ټینګار وشو چې نور باید د دارالوکالو او صورت دعوو د لیکلو لپاره مسلکي او په کار پوه عالمانو ته جوازونه ورکړل شي.
په ورته وخت کې د ناستې ګډونوالو هم خبرې وکړې زیاته یې کړه چې دغه ډول غونډې جوړول د ټولو اداراتو د مشکلاتو د حل یواځنۍ لار ده نو په همدې اساس د هماهنګۍ غونډو په دوام ټینګار وشو.
د ادارو مسؤولینو وویل چې هره اداره باید د خپل کاري چوکاټ په محدوده کې فعالیت ترسره کړي تر څو د بلې اداري په چارو کې مداخله ونه شي.
د ادارو مسؤولینو د محکمې د رئیس شیخ نقیب الله اخوندزاده ددې نوښت ستاینه وکړه چې زیاتې اداري یې د هماهنګۍ په موخه خپل دفتر دعوت کړې وې.

## د ننګرهار ولایت استیناف محکمې په تالار کې د عدلي او قضائي ارګانونو ترمنځ د همغږۍ ناسته ترسره شوه

په۱۴۴۳/۱۱/۲هـ ق نېټه د ننګرهار ولایت د استیناف محکمې په تالارکې د عدلي او قضائي ارګانونو د همغږۍ ناسته ترسره شوه.
د ناستې پیل د قرآنکریم په څو مبارکو آیاتونو باندې وشو، وروسته د ننګرهار د مرافعه محکمې عمومی رئیس شیخ محمدګلاب «فاروقي» د همغږۍ ناستې پر اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې، مسؤولین یې متوجه کړل چې زمونږ هیوادوال دا ۲۰ کاله د هرې خوا ځورېدلي او کړېدلي دي او باید د دوی ستونزو ته ټولیزه توګه رسېدنه وکړو.
شیخ محمدګلاب فاروقي زیاته کړه چې زمونږ نظام اسلامي نظام دی، که حتی مجرمین زموږ مخالفین هم وي مونږ متعهد یو چې د هغوي حقوق د اسلام مبین دین په رڼا کې ورکړو او دوسیو ته یې د قانوني رسېدنه وکړو.
نوموړي ټینګار وکړ چې دغه شان جلسې باید هره میاشت کې یو ځل ترسره شي تر څو د هیوادوالو ستونزو ته په وخت رسېدنه وشي.
په یاده ناسته کې د حقوقي او جزائي دوسیو په چټکه توګه څېړلو، د محبس او توقیف خانو څخه وخت پر وخت څار او په یو لړ نورو موضوعاتو بحث وشو او په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول.
یاده جلسه کې د ختیځ زون د ابتدائیه نظامي محکمې رئیس مولوي عین الله»خلیل«، د نظامي منسوبینو د دیوان رئیس شیخ محمدګل «وهاج»، د ښهري محکمې رئیس مولوي امان الله، د امنیه قومندانۍ جنائي مدیر، د استناف څارنوالۍ مسلکي څارنوالانو، د محبس مدیر، د عدلیې ریاست استازي، د استخباراتو د څارنوالۍ رئیس او د استناف او ښهري محاکمو د دیوانونو رئیسانو ګډون کړی و.
جلسه د استیناف محکمې د عمومي رئیس شیخ محمدګلاب «فاروقي» په د عائیه سره پای ته ورسېده.

## د لغمان د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت له ښاري محکمې څخه لیدنه وکړه

د ۱۴۴۳هـ ق کال د ذوالقعدې میاشتې په ۱۶مه نېټه د لغمان ولایت د استیناف محکمې رئیس عبدالله (فرقاني) د دغه ولایت د ښاري محکمې څخه لیدنه وکړه.
د استیناف محکمې رئیس د ښاري محکمې له ټولو دیوانونو څخه لیدنه وکړه، د ټولو حاضري یې وکتله او د هغه قضیو پوښتنه یې وکړه چې مربوطه دیوانونو ته راغلې وې، او د یادو دیوانونو د قضاتو له خوا ورته په دې اړه تفصیلي معلومات ورکړل شول.
وروسته د استیناف محکمې رئیس د قضاتو ستونزې واورېدې او د دغه ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.
همدارنګه د استیناف محکمې رئیس په یاده نېټه د وثایقو له آمریت څخه هم لیدنه وکړه، د هغوی حاضري یې وکتله، او له دوی یې د ورځنیو چارو او مشکلاتو په اړاو پوښتنه وکړه.
په پای کې د استیناف محکمې رئیس د ښاري محکمې د احاطې شاوخوا هغه ځمکو څخه هم لیدنه وکړه چې په دې وروستیو کې د لغمان ولایت ښاروالي غواړي د دوکانونو لپاره په کې غرفې ځای پر ځای کړي.
داستیناف محکمې رئیس له هغو ځایي دوکاندارانو او لاسي پلورونکو سره چې دغرفو ژمنه ورسره شوې وه وکتل او له هغوی څخه یې په دې هکله پوښتنې وکړې، دوکاندارانو د ښاروالۍ داکار وغانده او وویل چې دا غرفې د شخصي ګټو په خاطر دلته اېښودل کیږي او زمونږ په کې ګټه نشته.
د استیناف محکمې رئیس ورته وویل مونږ د سترې محکمې له عالي مقام سره دا خبره شریکوو چې په دې غرفو سره د ښاري محکمې شاوخوا ګڼه ګوڼه او بیروبار ډېرېږي، په دې سره د قضاتو او د محکمې امنیت تر ګواښ لاندې راځي، د بندیانو د تېښتې او فرار لپاره زمینه برابرېږي او همدارنګه د عامو خلکو پر وړاندې د تګ او راتګ لاره بندیږي چې د مسلمانانو د ازار او اذیت سبب ګرځي.
د استیناف محکمې رئیس په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت کړنلاره د عامو خلکو د ستونزو حل کول دي، نه دا چې دعامو خلکو پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالبصیر (مشعل)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل په ابتدائیه محکمه...

او ابرو او عزت ته يې سپک ګوري نو د اسلام دين د داسې مجرمينو لپاره حدود، قصاص او تعزيري سزاګانې ټاکلې دي، تر څو په ټولنه کې د خلکو ځانونه د وژنې او ناحقه وينې تويېدو څخه وژغورل شي، مالونه يې خوندي شي، عزت او ابرو ته يې زيان ونه رسيږي. نو په دې اساس د اسلام مبارک دين د انساني ټولنې لپاره سراسر رحمت، امن او سلامتي ده.

مفتي صيب وويل، د الله تعالی شکر اداء کوو چې نن مو هېواد کې اسلامي نظام حاکم دی، او د اسلامي نظام او اسلامي امارت تر چتر لاندې د شريعت مطابق سزاګانې تطبيق کېږي او په قرآني تعليماتو او نبوي ارشاداتو عمل کېږي، هېوادوال مو په امن او سلامتۍ کې شپې ورځې تېروي.

مفتي صيب خپله وينا اسلامي نظام ته د بقاء په دعا پای ته ورسوله.

ورپسې د کابل ولايت د شهري محکمې د اول زون رئيس مولوي عزيزالله (تقي) د لاندې مجرمينو د قضيې خلاصه بيان کړه.

۱. نجيب الله د ګلبر زوی، کسب غريبکار، د کابل د ولايت د نهمې حوزې اصلي او د کابل ولايت د ۱۶مې حوزې فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (له کور څخه د سولر د غلا کولو اقدام) د اعتراف په اساس پر اته مياشتو او درې ورځو تنفيذي بند علاوه، تعزيراً د (۳۰) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

۲. سيد عظيم د محمدخان زوی، کسب بېکاره، د کونړ ولايت اصلي او د کابل ولايت د ۱۲مې ناحيې فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (له بد اخلاقه ښځو سره د نامشروع اړيکو لرل) د اعتراف په اساس د يو کال تنفيذي بند علاوه تعزيراً د (۳۹) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

۳. سهراب احمد د فريد احمد زوی، کسب دوکاندار، د کابل ولايت د ۱۶مې ناحيې اصلي او فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) صاحب لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (له کور څخه د غلا اقدام) د صريح اعتراف په اساس پر شپږ مياشتې او ۲۰ ورځو تنفيذي بند علاوه، تعزيراً د قضيې متضرر لوري ته په ملهمانه ډول د ۱۰ زره افغانۍ په ورکولو او (۱۰) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

٤. خيبر د روزي خان زوی، کسب دوکاندار، د کابل ولايت د ۱٦مې حوزې فعلي اوسېدونکی، او توريالی د ميرزامحمد زوی، کسب بېکار، د کونړ ولايت اصلي او د کابل ولايت د ۱٦مې ناحيې فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (کيسه بري) د اعتراف په اساس پر دوه کاله تنفيذي بند علاوه تعزيراً د (۳۹) درو وهلو په جزاء محکوم شوي دي.

وروسته د کابل ولايت د اول زون د جزاء ديوان رئيس مولوي اخترمحمد مظهري د پاتې مجرمينو د قضيې خلاصه په لاندې ډول بيان کړه.

٥. غلام رسول د مزاخان زوی، د برق کسب لري، د پکتيا ولايت د جانيخيل ولسوالۍ اصلي او د کابل ولايت د دوولسمې ناحيې د شهرک امنيت سيمې فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) صاحب لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (د غلا اقدام) د اعتراف په اساس پر شپږ مياشتې او (۱۱) ورځو تنفيذي بند علاوه تعزيراً د (۱۰) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

٦. ثناءالله د حميدالله زوی، کسب يې موټر چلول دي، د کابل ښار د اتمې ناحيې اصلي او فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (له شرابو سره يو ځای نيول کېدل) د اعتراف په اساس پر شپږ مياشتې او (۲۳) ورځو تنفيذي بند علاوه تعزيراً د (۳۰) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

۷. نجيب الله د فضل الرحمن زوی، کسب يې ترکاري فروشي، د پکتيا ولايت د آريوب ځاځي ولسوالۍ اصلي او د کابل ښار د دوولسمې ناحيې فعلي اوسېدونکی، د کابل ولايت د اول زون د شرعي ابتدائيه محکمې د جزاء ديوان د رئيس مولوي اخترمحمد (مظهري) صاحب لخوا د قضائيه پلاوي په اتفاق په خپل جرم (له کور څخه د غلا اقدام) د اعتراف په اساس پر يو کال تفيذي بند علاوه تعزيراً د (۳۰) درو وهلو په جزاء محکوم شوی دی.

## د کابل د استيناف محکمې نوی رئيس معرفي شو

د کابل ولايت د استيناف محکمې نوی رئيس شيخ عبدالغفار(رحماني) د يادې محکمې د مقام په دفتر کې په يوه جوړه شوې ناسته کې معرفي شو.

په دې ناسته کې د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني)، د کابل ولايت د استيناف محکمې پخواني رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (عزنوي)، د استيناف محکمې د ديوانونو رئيسانو، د ابتدائيه محاکمو رئيسانو او اداري کارکوونکو ګډون درلود.

د ناستې په پيل کې محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) د کابل ولايت د استيناف محکمې نوی رئيس د ناستې ګډونوالو ته معرفي کړ او وويل، قضاء د اسلامي نظام ډېر مهم رکن دی، نو ټولو قاضيانو ته په کار ده چې له يو او بل سره په همغږۍ خپلې دندې په ښه توګه ترسره کړي.

نوموړي زياته کړه چې الله تعالی دې نوي رئيس ته توفيق ورکړي چې د مشرتابه لخوا نوې ورسپارل شوې دنده په ښه ډول ترسره کړي.

ښاغلي (حقاني) د کابل ولايت د استيناف محکمې د پخواني رئيس فعاليتونه وستايل او له هغه يې مننه وکړه.

وروسته د کابل د استيناف محکمې مخکني رئيس شيخ عبدالرحمن( عزنوي) ګډونوالو ته په خطاب کې وويل، زمونږ ټولو هدف د يو با ثباته اسلامي نظام لرل دي، په همدې وجه بايد يو بل سره په همغږۍ کار وکړو ترڅو خپل سپېڅلي هدف ته ورسيږو.

نوموړي ددې محکمې نوي رئيس ته د چارو د ښه توګه ترسره کولو دعا وکړه.

په پای کې د کابل د استيناف محکمې نوي رئيس شيخ عبدالغفار (رحماني) د نساء مبارک سورت د ٥۸ آيت ((إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُم أَن تُؤَدُّوا الأَماناتِ إِلىٰ أَهلِها وَإِذا حَكَمتُم بَينَ النّاسِ أَن تَحكُموا بِالعَدلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمّا يَعِظُكُم بِهِ إِنَّ اللَّهَ كانَ سَميعًا بَصيرًا))

په لوستلو سره خپل بيان پيل کړ او وويل، په دې دومره کلونو کې زمونږ هدف د اسلامي نظام حاکمول و، الحمدلله اوس زمونږ په هيواد کې اسلامي نظام حاکم شوی دی او د اسلامي نظام تقويه په قضاء پورې تړاو لري، نو مونږ بايد خپلې چارې په ښه توګه ترسره کړو او له يو بل سره په همکارۍ خپل مسئوليتونه ترسره کړو.

رحماني وويل، مونږ ته دغه راسپارل شوې دنده يو امانت دی، له الله تعالی څخه غواړم چې ماته توان راکړي ترڅو د دغه امانت څخه په ښه توګه ساتنه وکړم او خلکو ته په ښه توګه خدمت وکړم.

غونډه د استيناف محکمې د ديوانونو يوه رئيس د دعاء په ويلو سره پای ته ورسوله.

## خلاصه گزارش اجراآت و فعالیت های کاری آمریت ارزیابی اجراآت طی ماهای
## (رجب المرجب الی ذوالقعده سال ۱٤٤۳ ه ق)

- قيد وارده به تعداد (۱۲۳) قطعه پ۲ کارکنان رقابتی مرکزی و ثبت شهرت مکمل شان در جدول پلان تطبيقی.
- قيد وارده به (۱۰۰) قطعه پ۲ کارکنان رقابتی ولايتی و ثبت شهرت مکمل شان در جدول پلان تطبيقی.
- ارسال (۲٥) قطعه مکتوب به آنعده از کار کنان که از لحاظ بست ارتقاء نموده اند غرض ترتيب پلان کاری سالانهٔ شان.
- ترتيب و ارسال مکاتيب آگاهی دهی از تاريخ ارزيابی اجراآت برای (۹۲) تن کارکنان خدمات ملکی مرکزی و ولايتی.
- ترتيب جدول نظارتی برای (۸٦) تن از کارکنان خدمات ملکی مرکزی و ارسال آن غرض تعيين زمان مشخص و ارزيابی شان بصورت حضوری در زمان تعيين شده.
- ترتيب و ارسال مکاتيب اگاهی دهی برای (۱۰) تن کارکنان که ارزيابی آزمايشی (شش ماهه) شان تکميل شده‌است .
- جمع آوری (۹۲) قطعه فورمه جات ارزيابی اجراآت رياست های مرکزی و ولايتی که شامل پلان کاری سالانه، فورم ارزيابی اجراآت و گزارش اجراآت سالانه می‌باشد.
- بررسی و تحليل همه جانبهٔ فورمه جات ارزيابی اجراآت (پلان های کاری، فورمه جات ارزيابی اجراآت سالانه و گزارش اجراآت سالانه که بعد ارزيابی به اين آمريت مواصلت ورزيده است).
- تهيه و ترتيب به تعداد (۱٥) قطعه پيشنهادات ارتقای قدم برای (۹۲) تن از کارکنان مرکزی و ولايتی به مقام محترم عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان و اخذ منظوری آن.
- کاپی فورمه جات ارزيابی اجراآت (۹۲) تن از کارکنان مرکزی ولايتی و ارسال اصل فورمه جات به رياست استخدام و سوانح جهت درج و ثبت در سوانح کارکنان.
- صدور (۱٥۰) قطعه مکاتيب پيرامون نتايج ارتقاء قدم (۹۲) تن کارکنان رقابتی مرکزی و ولايتی بعد از منظوری مقام عالی ستره محکمه به رياست های (عمومی مالی و اداری، استخدام و سوانح و رياست مربوطه کارمند) غرض طی مراحل بعدی.
- ترتيب (۱۱) قطعه مکاتيب مستردی فورمه جات ارزيابی اجراآت کارکنان ولايتی.
- ثبت نتايج ارتقاء قدم (۹۲) تن از کارکنان خدمات ملکی قوه قضائيه در ديتابيس (پلان تطبيقی).
- قيد وارده (۲٤۲) قطعه مکتوب که از مراجع مختلف مواصلت ورزيده است.
- صدور(۲۸٥) قطعه مکتوب.
- مطالعه و تحليل همه جانبه طرزالعمل ارزيابی اجراآت مامورين خدمات ملکی قوه قضائيه و آوردن بعضی تغيرات، ايزادات و تصحيحات لازم روی طرزالعمل متذکره و ارسال آن به رياست محترم تدقيق و مطالعات غرض طی مراحل بعدی آن.

## تدویر جلسهٔ اداری در محکمهٔ استیناف ولایت غور

جلسهٔ اداری رياست محکمه استيناف ولايت غور به تاريخ ۱٤٤۳/۱۰/۱۰هـ ق تحت رياست مولوی محمد شريف «رحمانی» رئيس محکمهٔ استيناف با اشتراک رئيس و اعضای محکمه ابتدائيه شهری، رؤسای دواوين، اعضای محاکم و کارمندان اداری در دفتر رياست محکمهٔ مرافعه داير گرديد.

ابتداء جلسه با تلاوت آيات از کلام الله مجيد توسط مولوی فيض الباری «منصوری» آمر ثبت وثايق و مخزن آغاز شد؛ سپس رئيس محکمهٔ استيناف ضمن خوش آمديد به همه اعضای اشتراک کننده در جلسه راجع به محفوظ نگهداشتن استقلاليت قضاء، سرعت در اجراآت و بررسی دوسيه‌های وارده و پابندی به وظيفه صحبت همه جانبه نمود.

موصوف گفت همانطوريکه قضاء رکن مستقل نظام امارت اسلامی افغانستان است استقلاليت آن توسط قضات محترم که بالفعل شامل ارگان مقدس قضاء هستند جداً رعايت گردد، قضات محترم با حفظ روابط حسنه با ديگر ارگان‌های ملکی و نظامی زير تأثير مسائل سمتی، قومی و انديوالی نرفته و فشار هيچ زورمندی را نيز قبول ننمايند. وی افزود که قضات محترم هميشه در دفاتر کاری خود حاضر و از گشت گذار بی‌مورد جداً خودداری نمايند و در اجراآت يوميه و حل فصل دوسيه‌ها بدون تأخير و تعلل در ميعاد قانونی رسيده‌گی به موقع نموده تا مجال برای شکايت از طرف اصحاب دعاوی ديگر مردم باقی نمانند.

در ادامه مولانا عبدالرب «قريشی» رئيس ديوان جزاء مرافعه، مفتی عبدالشکور «حکمت» عضو و مفتی ديوان جزاء مرافعه، مولوی محمد اکبر «حکمت» رئيس ديوان مدنی مرافعه و مولوی فيض الباری «منصوری» آمر وثايق مخزن مرافعه در مورد اولويت بندی دوسيه‌ها، رعايت اجراآت و بررسی دوسيه‌ها به طريق نوبت و حفظ اسرار در دفاتر، وحدت، صميميت و اعتماد بين قضات صحبت نمودند. علاوه بر آن اکثريت اعضاءِ جلسه در بحث آزاد سهم گرفتند؛ بعضی مشکلات و چالش های موجوده را مطرح نمودند.

و در اخير موضوعات توسط رئيس محکمهٔ استيناف جمع بندی و در مورد هر کدام آن تصاميم و هدايت لازم ارايه گرديد و فيصله صورت گرفت تا طی هفته آينده در رابطه به حل مشکلات کاری موجوده و عدم هماهنگی ارگان های عدلی و قضائی که مسلماً باعث سکتگی در اجراآت يوميه محاکم ميگردد جلسه ای هماهنگی ارگان‌های عدلی و قضائی داير و طبق آجندای مورد نظر صحبت و توافق صورت گيرد.

## د قضائیه ځواک لوی اداري آمریت د دفتر ریاست د تحریراتو آمریت کاري راپور

د روان (۱٤٤۳) هـ ق کال د نهمې مياشتې له لمړۍ نېټې څخه تر اوسه د قضائيه ځواک لوی اداري آمريت د دفتر رياست، د تحريراتو آمريت د فعاليتونو او کړنو د راپور خلاصه په لاندې توګه ده.

- د افغانستان اسلامي امارت او رياست الوزراء محترم مشرتابه مقام څخه (٤۸) احکام، فرامين او هدايات ترلاسه کول، او د تعقيب په پاره اړوندو مراجعو ته تکثير او استول شوي دي.
- د افغانستان اسلامي امارت د کابينې څخه (۳۷) قطعې مصوبات مونږ ته رارسېدلي چې د تطبيق او وروستيو کړنو په منظور اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.
- له بېلا بېلو سرچينو څخه د مختلفو موضوعاتو اړوند (۱۲٦) مکتوبونه د قضائيه ځواک لوی اداري آمريت ته راليږل شوي دي او زمونږ له لوري د مينوټ په بڼه خپلو اړوندو مراجعو ته د اجراآتو په مقصد راجع شوي دي .
- (۱۷۱) مکتوبونه، وړانديزونه او استعلامونه چې د مختلفو مراجعو څخه زمونږ رياست ته استول شوي دي، زمونږ له لارې جنساً مربوطه مراجعو ته د وروستيو او اصولي اجراآتو لپاره راجع شوي دي.
- د قضائيه ځواک د عمومي آمر د هغه هداياتو تکثير او تعقيب چې د اصولي اجراآتو په منظور ماتحت اړوند مراجعو ته بايد وليږل شي، او همدارنګه د اړوند مراجعو څخه د راپور اخيستل.
- (۹۲) قطعې وړانديزونه چې د پولي مصارفو، اسلحو د توزيع، د کمپيوټرونو او پرنټرونو د توزيع، د موټرونو او د هغو لپاره د روغنياتو د توزيع، د جنراتورونو لپاره د تېلو د توزيع، متفرقه اجناسو، قرطاسيو او د خوراکي توکو د توزيع لپاره شوي دي، د قضائيه ځواک د لوي اداري آمر د هدايت اخيستلو څخه وروسته اړوندې مرجع ته د لازمو او اصولي کړنو په منظور راجع شوي دي.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳